# د افغانستان د دوامدار پرمختګ لپاره صنعتي انقلاب د مقالو لاربښود

## الف : دعلمي – تحقیقي مقالې جوړښت

**۱ـ عنوان / Title:** عنوان باید لنډ، دقیق او زړه راښکونکی وي او د څېړنې اصلي موضوع په واضح ډول څرګند کړي.

**۲ـ نوم او د دندې پتې / Name and Affiliation:** د مقالې له عنوان وروسته، تخلص او نوم، علمي رتبه، تحصیلي درجه، وظیفه، د اړیکې شمېره، برېښنالیک او د لیکوالانو د دندې پتې باید ولیکل شي.

**۳ـ لنډیز / Abstract:** لنډیز باید څلور برخې (موخې، مېتودونه، موندنې او پایله) ولري، پرته له جلا سرلیکونو او ماخذونو ولیکل شي.

**۴ـ کلیدي کلیمې / Keywords:** کلیدي کلیمې باید له ۳ څخه تر ۷ کلیمو پورې وي.

**۵ـ سریزه / Introduction:** په سریزه کې باید د موضوع پېژندنه، د مسئلې طرحه، د څېړنې اهمیت، د څېړنې پوښتنې او موخې بیان شي. یاد موارد دې په جلا جلا پراګرافونو کې ولیکل شي، نه د جلا سرلیکونو په بڼه.

**۶ـ د څېړنې ادبیات / Literature Review:** د څېړنې مخینه، نظري بنسټونه یا چوکاټ باید په تفصیل بیان شي (یوازې د ټولنیزو علومو په علمي-تحقیقي مقالو کې اړین دي).

**۷ـ د څېړنې مېتود / Methodology:** په دې برخه کې د څېړنې طرحې پېژندنه (کیفي، کمي او ګډ)، د څېړنې ځای، وسایل (پوښتنلیک، لابراتوار وغیره)، آماري ټولنه، د نمونې اخیستنې طریقه، او د معلوماتو تحلیل مېتودونه بیان شي.

**۸ـ موندنې / Result:** پایلې باید په منظم ډول، دقیق او د جدولونو او ګرافونو په مرسته وړاندې شي (یوازې اصلي معلومات وړاندې شي، پرته له تحلیل او تفصیل).

**۹ـ بحث / Discussion:** په دې برخه کې پایلې تحلیل کېږي او د څېړنې له مخینې سره پرتله کېږي. دا برخه باید په لاندې ډول وړاندې شي: د موندنو تشریح او تفسیر، له ورته څېړنو سره پرتله، د څېړنې پوښتنو ته ځوابونه او د څېړنې محدودیتونه څېړل.

**۱۰ـ پایله / Conclusion:** عمومي پایلې او د هغوی اغېزې باید په لنډ ډول بیان شي.

**۱۱ـ وړاندیزونه / Recommendations:** د ستونزو د حل لپاره مهم وړاندیزونه، دد حللارې او د راتلونکو څېړنو لپاره سپارښتنې وړاندې شي.

**۱۲ـ د منابعو فهرست / References:** د مقالې ټول کارول شوي منابع باید په دقیق ډول د APA فورمټ په قالب کې ولیکل شي. (د مقالې لپاره د منابعو شمېر باید له ۱۵ څخه کم نه وي).

## ب: د علمي-تحقیقي مقالې لیکنې بڼه

۱ـ د مقالې لپاره د ملي ژبو لیکنیزه فونټ باید Bahij Zar وي.

۲ـ د انګلیسي ژبې لپاره فونټ Times New Roman او اندازه یې ۱۲ وي.

۳ـ د کرښو ترمنځ فاصله باید ۱,۱۵ وي.

۴ـ د مقالې لنډیز باید د ملي ژبو څخه په یوه او انګلیسي ژبه ترمنځ له ۱۵۰ څخه تر ۲۵۰ کلمو پورې وي، د لیک فونټ اندازه یې ۱۱ ساده وي.

۵ـ کلیدي تکي دې د ۳ څخه تر ۷ پورې اصطلاحاتو پورې وي، او د لیک فونټ اندازه یې ۱۰ ساده وي.

۶ـ د مقالې حجم باید له ۱۰ څخه تر ۱۶ پاڼو پورې وي.

۷ـ په شرعي علومو کې د ماخذونو لیکلو لپاره د APA طریقه او د شیکاګو (پاورقی) طریقه دواړه منل کېږي، خو په ټولنیزو او طبیعي علومو کې دې د ماخذونو لپاره د امریکا د روان‌شناسي ټولنې طریقه (APA) وکارول شي؛ د منابعو فهرست فونټ اندازه باید ۱۲ ساده وي.

۸ـ چارټونه، شکلونه او انځورونه دې په مناسب کیفیت چمتو شي؛ ګرافونه او جدولونه باید د سمون او ایډیټ وړ وي، او د لیک فونټ یې ۱۱ ساده وي.

۹ـ د مقالې د سرلیک فونټ اندازه دې ۱۴ بولډ وي، د مقالې اصلي برخو سرلیکونه دې ۱۳ بولډ وي، فرعي سرلیکونه دې ۱۳ ساده وي، او د مقالې متن لیک اندازه دې ۱۲ ساده وي.

۱۰ـ د پاڼې اندازه په Word کې دې د ۱۷ سانتي مترو په عرض او ۲۴ سانتي مترو په اوږدوالي وي، د پاڼې حاشیې (پورته، ښکته، ښي او چپ) ټولې ۲,۵ سانتي متره وي.

## ج: د علمي-تحقیقي مقالې محتوا

په مقالې لیکلو کې لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

۱ـ مقاله دې نوې وي او د کره معلوماتو او معتبرو سرچینو پر بنسټ لیکل شوې وي، او مخکې دې په بله ځای کې نه وي خپره شوې.

۲ـ مقاله دې له هر ډول سرقت ادبي او انتحال څخه پاکه وي.

۳ـ د لیکنې سبک دې معیاري وي او له املایي او انشایي تېروتنو څخه دې پاکه وي.

۴ـ له معتبرو سرچینو دې استفاده شوې وي.

۵ـ مقاله باید د ملي کنفرانس "د صنعتي انقلاب د افغانستان د دوامداره پراختیا لپاره" په اصلي او فرعي محورونو باندې متمرکزه وي.

٦ـ مقاله باید د هېواد له دیني او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي.

۷- مقاله باید د اسلامي امارت د پالیسۍ سره په ټکر کې نه وي.

**یادونه:** که د ذکر شوو معیارونو لارښوونې ونه رعایت شي، مقالې به تر ارزونې لاندې و نه نیول شي.

**یاددښت:** د مقالې عمومي عنوان، نوم، تخلص، د لیکوالانو سازماني پته، لنډیز، کلیدي کلمې د هېواد ملي ژبو ترڅنګ باید په یوې نړیوالې ژبې (انګلیسي یا عربي) هم وژباړل شي او د مقالې د استولو پر وخت د مقالې په وروستی برخه کې (شاوخوا یوه پاڼه) ځای پر ځای کړل شي.

**په درناوي**

**د البیروني پوهنتون د علمي څېړنو او مجلې معاونیت**